ژباړه: ع. شیرزوی نېټه ۲۰۱۱-۰۱-۰۷

# انفلاسيون او د هغې ناوړه اغيزې د ټولني په اقتصاد

مؤلف: مایک پیترسن

پرسوب يا انفلاسيون په يوه هيواد کي هغه وخت رامنځ ته کيږی چي کله کاغذي پيسي له حد څخه زياتي چاپ شي او د طلايي سکو سره د تبادلي وړ نه وي او يا دا چي د طلايي او کاغذي پيسو تر منځ انډول له منځه ولاړ شي دغي پروسه د انفلاسيون په نوم ياديږي . انفلاسيون د پيسو د زياد چاپ او يا هم پانګوالو ته د ډ يرو بانکی اعتبارونو د ورکړې له مخې چي د پيسو د ارزښت کموالي راولي را منځ ته کيداې شي، پدې حالتو کي خلک هڅه کوي خپلي پيسي په سودا ګريزو توکو واړوي چي دا عمل د نرخونو او د پيسو د لوړولو لامل ګرځي او پرسوب رامنځ ته کوي.
دغه اقتصادی پديده په مختلفو وختونو کي په ټولنه کي را څرګنديږي چي په خپل وارسره د ټولني اقتصادی حالت د زيادو مشکلاتو سره مخامخ کوي. دا اقتصادي پديده زياتي معناوې او مفاهيم لري خو اصلا د يوه هيواد په دننه کي د عمومی توکو د قيمتونو د زيادوالي په پايله کي رامنځ ته کيږي.
پرسوب د مصرف کوونکو د اخيستلو توان کمزورې او د هيواد پولي واحد بې ارزښته کوي، په لنډ ډول انفلاسيون لاندې اقتصادی فکتورونه په ژوره توګه تر خپل تاثير لاندې راولي .
ناخالص ټولنيز محصول، د توليد کوونکو او مصرف کوونکو د قيمت شاخصونه، د هيواد ليږد را ليږد او يو لړ نور
ناخالص ټولنيز محصول :
په يوه اقتصادی دوره (يوکال) کي د بازار په موجوده قيمت سره د يوه هيواد په دننه کي د توکو او خدماتو مجموعي توليد ته ويل کيږي، چي لدې له مخي د يو هيواد اقتصادی وده او پرمختګ ټاکل کيږي چي له امله يې کوالاې شو په ډيره آساني سره هيواد د نورو هيوادو سره پرتله ورسته والي او پر مخ والي يي معلوم کړو، لکه څرنګه چي وويل شو انفلاسيون د پير او پلور پروسه ټکني کوي چي په پايله کي نا خالص ټولنيز محصول کميږي اقتصادی وده او عايد دواړه راکښته کيږي.
بر عکس يو شمير هيوادونه چي په نسبي ډول د ښه اقتصاد خاوندان دي چارواکي انفلاسيون ته د زيادوالي اجازه ورکوي تر څو د دوي نا خالص ټولنيز محصول سطح لوړه او اقتصادی وده زياده شي. بايد د انفلاسيون سطحه د ۲ فيصده څخه زياده نشي چي د پانګي د کميدو باعث ګرځي .
د توليد کوونکو او مصرف کوونکو شاخصونه :
هر توليد د مفاد د لاسته راوړلو په خاطر تر سره کيږي او هغه وخت چي په توليد يا خدمت کي ګټه نه وي، نه تر سره کيږي پس توليد کوونکي هغه وخت خپل توليد پراختيا ورکوي چي توليدات يي د خرڅلا بازار ولري او د خرڅلا بازار د نورو عواملو تر څنګ د کيفيت او د ټيټو قيمتونو په پايله کي پراختيا مومي، ټيټ قيمتونه زياد عوامل لري مثلا: په توليد کي د کاريدونکو منابعو د قيمتونو ټيټوالي، د کار مزد ټيټوالي، د مالياتو او ترانسپورتي مصارفو کموالي، چي د انفلاسيون په پايله کي د توليد لپاره د خرڅلا بازار تنګيږي ځکه عام ولس د لوړو بيو توان نلري په نتجه کي توليد کوونکي خپل د توليد مقدار راکموي ځکه دوي هم د خپلو توليداتو له پاره د مورد وړ تقاضا نلري که


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ

حالت همداشان دوام ومومي تصدی ګانې او فابريکې خپل کارونه په ټپه دروي او له توليدی فعاليت څخه لاس په سر کيږي چې نوموړی حالت اقتصاد ناوړه او منفی اغيزه لري.

په ډيره مينه او درنښت

نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ